ليکوال: هارون خپل نېټه ۲۰۱۰-۱۰-۲۷

# توري پيسې، تور هدفونه!

تېره شنبې، د اکتوبر پر درويشتمه نېټه، د نيويارک ټايمز ورځپاڼي خبريال، ډيکسټر فيلکينز، د يوه رپوټ په ترڅ کي رسوا کړه، چي په کابل کي د ايران سفير، فدا حسين مالکي، د تهران له هوايي ډګر څخه د الوتني پر مهال په الوتکه کي دکرزي د دفتر رئيس، عمر داوود زي، ته هغه پلاستيکي کڅوړه ورکړه، چي د اورپايي اتحاديې د پيسو، يورو، په بنډلونو ډکه وه. د دې خبر خپرېدو يو ځل بيا د غلو او مزدورانو وضعه اندېښمنه کړه. په پيل کي دکرزي د ارګ چوکره ګانو او په کابل کي د ايران د سفارت مقاماتو دواړو دا خبر په کلکه رد کړ. د کرزي مطبوعاتي چېراسي د واقعيتونو په پټولو سره دا خبره هم زياته کړه، چې ايران له افغانستان سره دبيارغونې په برخه کي د قانوني سرچينو له لارې مرستې کوي؛ او د ده د ادعا له مخي دا مرستې له هر ډول شک او شبهې پرته، په شفاف ډول کيږي؛ مګر نن بالاخره کرزي اعتراف وکړ، چي ايراني مقامات په ريشتيا سره هغه ته په کال کي يو يا دوه پلا د پينځو، شپږو يا اوو لکو يورو په اندازه پيسې ورکوي. په دې ډول د کرزي او انډيوالانو کوړ بار تر مزله و نه رسېد؛ يو ځل بيا يې مخونه تور؛ او په ګرده نړۍ کي يې د غلا، ټګۍ برګۍ او وطن پلورني خبر ازانګې وکړې.

د دې شرمناکي او ننګيني پېښي په څېړنه کي لومړنۍ پوښتنه دا ده، چي کرزي او د هغه د ارګ نوکرانو ولي د نيويارک ټايمز تر رسوايي مخکي، د ايرانيانو د دغه راز« نغدي مرستو» يادونه، نه وه کړې؟

ښېله شکه، چي د عمر داووزي په ګډون د ارګ ځيني محرم کسان په دې تورو او کرغېړنو معاملوخبر وه؛ خو سره له هغه هم هيڅکله د دې پټي معاملې په اړه دولتي اراکينو، مطبوعاتو او خلګو ته څه نه وه ويل سوي.

د نړۍ په هيڅ هيواد، هيڅ ډيپلوماتيک دود او دستورکي داسي نه دي ليدل سوي، چي د هيوادو تر منځ « مالي مرستي » داسي مرموزه او شکمنه بڼه ولري. دا څنګه ممکنه ده،چي د يوه هيواد « مالي مرستي » بې رسمي او قانوني تشريفاتو، يوازي د دوو کسانو په حضور کي، هغه هم د غلو، ترورېسټانو، قاچاقبرانو او جاسوسانو په ډول په الوتکه کي د سفر پر مهال، مقابل لوري ته وسپارلي سي؟!

آيا ايرانيانو نسواى کولاى خپلي مالي مرستي له بين المللي تعاملاتو سره سم، د يوې رسمي غونډي په ترڅ کي افغانانو ته و سپاري؟!

څوک دي ددې پراخي نړۍ له يوه ګوټ څخه فقط يو مثال را وښيي، چي ديوه هيواد رسمي مقاماتو دي د بل هيواد رسمي مقاماتوته په پلاستيکي کڅوړوکي نغدي پيسې ور کړي وي. آيا ايرانيانو نسواى کولاى يا په دې نه پوهېده، چي ور کړل سوي پيسې د يوه چيک په بڼه، د افغانستان د ماليې وزارت يا کوم بل رسمي مقام ته و سپاري؟!

سربېره پردې ، آيا کرزى د هيواد د اساسي قانون او نورو نافذو قوانينو د حکمونو له مخي د دې واک لري، چي له بهرنييو هيوادو څخه تر لاسه کېدونکي نغدي مرستي د يوه تحويلدار يا معتمد په توګه، له ځان يا نورو وفادارو انډيوالانو سره وساتي؟!

آيا کرزى دا ثابتولاى سي، چي ور کړل سوي پيسې يې چيري ساتلي وې؛ او د کومو قانوني مقصدو له پاره يې لګولي دي؟!

آيا کرزي ايرانيانو ته دا نسواى ويلاى، چي دى يا د ده د دفتر رئيس، تحويلدار نه دئ؛ نو ځکه بايد د هيواد د نافذو قوانينو له مخي ټولي مالي مرستي د ماليې وزارت او افغانستان بانک له لارې، افغاني مقاماتو ته وسپارلي سي .

آيا د ماليې وزارت دکرزي د د فتر اړتياوي اولګښتونه نه برابرول، چي ده يې د پوره کولو له پاره په ناچارۍ سره، ايرانيانو ته لاس اوږداوه؟!

آياکرزي د ټولي دولتي دستګاه د مشر په توګه ددې وس نه درلود، چي د خپل دفتر د مصارفو د حواله کولو له پاره، ماليې وزارت يا نورو مالي ادارو ته امر وکړي؟! آيا د ماليې وزارت او نورو مالي مؤسسو مسوولينو، په دې برخه کي د هغه امرونه ته غاړه نه ايښووله؟ که يې نه ايښووله آيا ده يې د ګوښه کولو اختيار نه لاره؟!

که په پلاستيکي کڅوړوکي دا پيسې ريشتيا هم سپيني او قانوني واى، بيا به نو د کرزي د دفتر ټول کارکوونکي رسماً په هغه خبر واى؛ او مطبوعاتي چېراسيانو ته به يې په پټو سترګو د ردولو اړتيا نه واى!

دې ټکو ته په پام سره، د ايراني سفير له خوا دکرزي د دفتر رئيس ته د پيسو د کڅوړي ورکول يوه توره، کرغېړنه اوپليته معامله ده، چي په هيڅ بڼه، هيڅ ژبه او هيڅ منطق د منلو وړنه ده .

ګران هيوادوال په دې واقعيت هم ښه پوهيږي، چي ايرانيان هيڅکله دکرزي پر مخ مين نه دي . هغوى دا توري او کثيفي پيسې، په افغانستان کي د خپلو شومو پلانو د تحقق له پاره په چارښاخو بادوي . موږ ټولو ته څرګنده ده، چي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ایران څه موده مخکې زموږ بېوزلي مهاجر د مخدره موادو د کاروباریانو په تور جوپې جوپې په دار وځړول؛ خو دکرزي بې غیرته اداري یې د پوښتنې کولو جرأت هم و نه کړ. کرزي د خپلو شیعه متحدینو او بالنتیجه ایراني اخوندانود خوشالو له پاره د شیعه ګانو دشخصي احوال قانون تصویب کړ؛ په هیواد کې یې د ایران مذهبي او فرهنګي یرغل ته بې ساري لاره هواره کړه. البته د ایران د خطرناکو ستراتېژیکو مقصدونو اوږده کیسه دلته نه ختمیږي .
دکرزي د مزدوري او فاسدي اداري اراکینو ته په یوه سطحي او سرسري نظر وګورئ، چې زموږ په هیواد کې همدا اوس د ایران سیاسي، پوځي، مذهبي، فرهنګي، اقتصادي اوتبلیغاتي نفوذ کوم حد ته رسېدلئ دئ؟
ایران نه یوازې په تېرو دېرشو کلو کې د افغانستان په ورانی او وینو تویولو کې لوی لاس لاره، بلکې همدا اوس او تر دې وروسته به هم د خپلو مزدورانو له لارې، په دې غم ځپلې خاوره کې د ډېرو افغاني ضد دسیسو له لویو طراحانو او عاملانو څخه وي. دا ګرده امکانات د کرزي د مزدوري او فاسدي ایتلافي اداري په برکت، د ایران اخوندي رژیم ته میسر سوي دي.
باید له یاده و نباسو، چې ایران پر کرزي سربېره، د افغانستان نورو مزدورو جنګي او مذهبي ډلو ټپلو هم ته پرېمانه پیسې او مالي مرستې ورکوي . ایراني پراختیا غوښوونکې حتا په افغانستان کې د طالبانو د برې امکان هم له ذهنه نه لیرې کوي . له دې کبله د عبدالله عبدالله په مشرئ د شورای نظار په ګډون پر هرې جنګي او سیاسي ډلې پانګه اچوي؛ یو له بله یې جنګوي؛ دیوې ډلې په نابودئ او د بلې په واکمنئ کې ځان ته د سیاسي او ستراتېژیکو مانورو فضا برابروي . ایراني اخوندان لیوني نه دي، چې چا ته د خیر او ښېګڼې له پاره مفتې پیسې ورکړي. ایرانی ولس په خپله له ډول ډول اقتصادي ستونزو او کړاونو سره لاس و ګرېوان دئ؛ اما اخوندي رژیم یې پوښتنه هم نه کوي .
په داسې حال کې، چې د کرزي د دفتر ټولې اړتیاوې اصولاًد دولت د نورو ادارو په شان د مالیې وزارت او نورو مربوطو ملي ادارو له خوا برابریږي، نو د ایرانیانو او نورو هیوادو پټې پیسې چیرې لګیږي؟
په بشپړ باور سره ویلای سو، چې دا پیسې هیڅکله په رسمي او قانوني چاروکې نه لګیږي؛ ځکه د رسمي او قانوني چارو د اجرأ کولو له پاره خو د کرزي له خپلې ادعا سره سم په بانک کې د څه دپاسه درې نیمو میلیارډو ډالرو زېرمه پراته ده . په دې توګه له ورایه مالومیږي، چې د ایرانیانو توري پیسې په تورو کارونو او تورو پروژوکې لګول کیږي.
په افغانستان کې دننه اوبهر د ځان یا نورو کسانو په نامه د شتمنییو اوجایدادونو برابرول؛ د ایران سیاسي، مذهبي او فرهنګي لاسوهنو ته لاره هوارول؛ په دولتي ادارو کې د ایراني ایجنټانو او خواخوږو له زیاتېدونکي رول سره مرسته؛ په انتخاباتو کې د خپلو شخصي، ګوندي او سیاسي ملګرو بریالي کول؛ د سیاسي وفادارییو رانیول؛ د مخالفینو تطمیع کول یا له منځه وړل؛ د ناراضیانو د سیاسي او تبلیغاتي فعالیتونو مخنیوی او ډېر نور هغه تور اوکرغېړن کارونه دي، چې له کلونوراهیسې د ایرانیانو او نورو پردو د تورو او چټلو پیسو په زور، پر مخ بیول کیږي .
تر لمر روښانه ده، چې که د پردو همدا توري او چټلې پیسې نه وای، زموږ په ورانه او سوځېدلې جونګړه کې به هم تر اوسه د افغان وژنې او ورانئ دا سرکښه اورونه بل نه وای؛ که د پردو مافیایي اوجاسوسي سازمانو دا کرغېړني پیسې نه وای، زموږ په ویاړلي او تاریخي هیواد کې به هم هیڅکله د پښتو او پاړسي، سني او شیعه ، پښتانه، تاجک، اوزبک، هزاره او نورو قومونو پر بنسټ د وینو والې نه بهیدای؛ یو د بل په سروکې به مېخونه نه ټکول کېده؛ زموږ بې ګونا عزیزان اوطنداران به د مغرضو پردو د خوښئ له پاره په سرتړلو کانټینرو کې نه اچول کېده؛ او په پای کې که د انسان وژنې، تباهۍ او ملي نفاق د را منځ ته کولو له پاره دا زهرجنې پیسې نه را تلای، زموږ په جنګ ځپلې کور کې به تر اوسه داسې بې عدالتي، زورواکې، لوږه، بې سوادي او وروسته پاته والی نه وای .
د دې تورو پیسو راوړونکي او اخیستونکي نه یوازې د افغانانو نه پخلا کېدونکي دوښمنان، بلکې د وینو، اوښکو، دوښمنیو او نورو بدمرغییو عاملان او سوداګران دي . اوسنی توره او ننګینه معامله د هغوی د بې غیرتی، وطن پلورنې او بې ایمانۍ یو بل روښانه او انکار نه منونکی ثبوت دئ .
هر دردمن او هیوادپال افغان باید د مرګ او تباهۍ د دې قاصدانو پر ضد د مبارزې سنګر ته را ودانګي؛ او په هیواد کې د یوه ملي او ولسي نظام په را منځ ته کولو سره، دا غملړلي مېنه نورد هغوی له تورومعاملو او انساني ضد جنایتونو څخه و ژغوري .

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ